# د همېش خليل د زندان حماسي ادبي خدمات

## Prison Based and Chivalric Poetry and Prose of Hamesh Khalil

نور البصر امن ،روح الله


### Abstract

*Hamish khalil is one of those writers of Pashto prose and poetry who has not only served Pashtun nation and Pashto language with the help of his writings but has also done great contributions in national politics. For the development of democracy in Pashtun nation, he has endured a lot of hardships. He also faced bad days of prison for the achievement of this goal but never refrained himself from supporting the sacred cause of freedom. He kept his struggle with the power of pen even inside the prison. In this research paper the researchers has carried out a detail evaluation of Hamish khalil's literary services and struggle which has done with the help of pen in prison.*


د پښتو ادب د تخليق،تحقيق او تنقيد په مېدان کښې به داسې کټ نۀ وي چې د ښاغلي همېش خليل د قلم د کچ نه به بچ پاتې شوې وي ـ د پښتو ژبې،ادب او پښتون قام د سوکالۍ او ودانۍ د سياست په مېدان کښې ئې هم د باطل سره مبارزې کړې دي ـ د پښتو ادب دا ګڼ اړخيزشخصيت د همېش ګل په نوم د برتاکال پېښور د انځرګل په کور کښې د اپرېل د مياشتې په ۱۱مه نېټه کال ۱۹۳۰ء کښې او غوړېدو[1] او په پښتو ادب کښې د همېش خليل په نوم همېش د پاره اوموسېدو ـ

همېش خليل له الله تعالیٰ پيداشي طور ادبي ذوق او شوق ورکړے وُاو هم دغه وجه وه چې لا کچه ځلمے وچې د شاعرۍ چېنه ئې د ,,نغمه زار،، په نوم تانده شوه ـ

د همېش صېب زنداني انګازې هغه وخت شروع شوې کله چې د هغۀ دننه انقلابي جذبو غزونې شروع کړے ـ چې ګران مشر ډاکټر سهېل انشاء ورته د توسيع ذات دريمه مرحله وئيلے ده د توسيع ذات په دې دريمې اوړدې اوکړ کېچنې مرحلې کښې داسې وخت هم راځي چې دۀ نه د جېلونو د قربانيانو تقاضه کوي ـ دې د پاره دې قربانيانو ته لبيک وائي او هېڅ قسمه يره ترخه نۀ محسوسوي ـ[2]

د همېش خلیل د جېلخانو دا سفر هغه وخت شروع شو کله چې ددهٔ په شاعرۍ کښې قومي ، سیاسي او انقلابي سوچ غورځنګ اووهلو۔ نو د سامراجي او مارشلائي نظام خلاف ئې اواز پورته کړو چې دغه اواز د وخت غاصبانو برداشت نه کړې شو نو د دهٔ دنیولو شازش ئې شروع کړو۔

د همېش خلیل صېب باره کښې چې د هغه وخت کومه فېصله جسټس شېخ محمد شفیع اورولې وه د هغې د شروع متن څهٔ داسې دے۔

"مورخہ 9مارچ 1953ء مسٹر صوبہ سرحد نے ہمیش گل ولد ا نذر گل پشاور کی نظر بندی کے احکام صادر کئے ۔ حکم ،نامہ صوبہ سرحد کے انسپکٹر جنرل پولیس کے ،نام تھا ۔ جس میں ہدا یت دی گئ تھی ۔ کہ مذکورہ ہمیش گل کو گرفتار کر کے پولیس کے حوالے کر د یا جائے ،تاکہ اسے ،تاریخ گرفتاری سے 3 ماہ کے لئے نظر بند رکھا گورنر صوبہ سرحد کو تسلی ہو گئ تھی ۔ کہ ہمیش گل کو امن عامہ کے منافی اقدام کرنے سے ،باز رکھنے کے لئے یہ کیا جائے ۔ اور اس کو دفعہ 3 پبلک سیفٹی ایکٹ 1948ء کی ضمن دفعہ (1) کے تحت نظر بند کر دیا جاوے ۔،،[3]

نتیجه دا شوه چې د حکومت په نظر کښې مشکوک شو او د کال ۱۹۵۳ء د مارچ د میاشتې په څوارلسمه ورځ په خپل دفتر کښې ګرفتار کړے شو۔ درې میاشتې د نحقۍ (پېښور) په تانه کښې د سي ۔ ائي ۔ ډي پولیس د ظلمونو ښکار وهٔ ۔ وروستو بیا د پېښور په مرکزي زندان کښې د یوسیاسي نظربند په حېث بندي کړے شو،،۔[3]

د همیش صېب د قیدوبند دغه سفر چې د نحقۍ پېښور نه شروع شوې وُد نظربندۍ او قیدوبند په اتهٔ کړلېچونو ګرفتار و۔[4] نه تېرشو او د پېښور ، پنډۍ، نوښار، جهلم، لاهور، ډېره اسماعیل خان او ترمیح زندان پورې اوغزېدو۔[5]

او دخپل ژوند دوه نوي میاشتې د ملک په بیلو بیلو جیلونو کښې تېرې کړے ،،[6]

دوخت د استعمار خو دا خیال ؤ چې د زندان په زنځیرونو په دغه جذبې مړاوے یا حتمې کړي ۔ خو دغه د یو حساس او باضمیره پښتون لیکوال جذبې وے چې په زندان کښې نورې هم په غورځنګونو شوے او چې د قلم د

ځوکې نه راووتې نو د پښتو ادب د ناوې ,,چارګل،، همیش په اواز ,, زماسندرې،، او د ,,کاکاجي صنوبرحسین مومند،، ددستار شمله شوه ـ

د همیش خلیل د زنداني اثاروتذکره څۀ دغه رنګ ده ـ

1. زما سندرې: دهمیش خلیل دا زنداني شعري مجموعه په اول ځل دارالتصنیف له خوا په جنوري ۱۹۷۳ء کښې د دوست محمد خان کامل د مقدمې او د قلندر مومند دسریزې سره په ۹۶ مخونو شوره شوه ـ کامل صیب ددې په مقدمه کښې لیکي چې :ـ

,, دا کتاب چې اوس ئې پښتنوته سوغاتوې د هغۀ د هغو شعري تخلیقاتو مجموعه ده چې ئې په ۱۹۶۱ء کښې په بندیخانه کښې کړي دي،،[7]

قلندر مومند صېب ددې کتاب په سریزه کښې د زنداني احساساتو په اړه خپله تبصره داسې کړې ده چې :

,, همیش خلیل زمونږ ځلمو شاعرانو کښې دټولونه زیات د قېد او بند ابتدا سره مخا مخ شوے دے ـ زما په رائې کښې د هغۀ د شاعرۍ اکثرې خوبۍ هم په دې سبب پیدا شوے دي ـ بند بخانو هغۀ ته یو داسې رومانیت پسندي ورکړے ده چې زمونږ د کول په شاعرانو کښې ډېره کمه ده ـ بلکې د خوشحال بابا او اشرف خان هجري نه راپه دیخوا ډېرو کمو شاعرانو بندبخانو کښې د وطن په فراق کښې سوې سوې نغمې لیکلي دي ،، [8]

د هغوی د دغې زنداني احساساتونه ځکه نغمې او سندرې جوړې شوې دي چې هغۀ د مچ په لویه بندې خانه کښې ددې د پاره داسې دعاغوښتې وه ـ

,,لویه خدایه،،

دزنـــــدان داز غوشـــــپول کښـــــې لویــــه خــــدایا
لکــه ګـــل مـــې ډکــه خلــه اوس پـــه خنـــدا کـــړے
دغـــو تـــورو شـــپو د تخـــانو کښـــې
جلاتـــې ســـره ترغـــاړه مجبوبــــه کـــــړے
خدایـــه! مـــا د تـــورو وریځـــو دیردونـــه
د انســـان د امیـــدونو ســـپین صـــباکړے

وارخطـــا ســـاده غونـــدې مخلـــوق تـــه
لار خطـــاؤ تهمـــې تـــل رښـــا رښـــا کـــړے
چـــې کشـــور د افغانـــانو معطـــر کـــړي
لکـــه یـــوئین د ګـــل لـــه غیرمـــې هویـــدار کـــړے[9]

دغه دعا قبوله شوې ده اوددې زنداني نغمو انګارې د زندان نه بهرراورتلې او په ټوله پښتونخوا خورې ورې شوے ـ
د یو څو نظمو او غزلونه پرته دا ټوله مجموعه په هغهٔ زنداني شاعرئ مشتمله ده چې :

,, د همیش خلیل د دویم دور شاعري یعني ,,زماسندرې،، د حبسیاتو هم یوه اهمه او پـه زړهٔ پورې برخه لري ـ چې د شاعر د قیدوبند د حالاتو او واقعاتو عکاسي کوي ،،[10]

د ,, پیغام ،، نظم د لیکل پس منظر داسې بیانوي ـ

,, په ۹ مئ کال ۱۹۶۲ء د سنټرل جیل میح نه زمونږ د مارشل لاګنې سیاسي بندیان دخپل یو کال قېد تېرولو نه پس ازادېدونکي وو ـ یوه ورځ وړاندې هغـو تـه د کـال نـه د ډېرمعیـار سیاسي بندیانو د مخه سفید د پاره چې کومه غونډه شوې وه ـ دا نظم په هغه موقـع وئـیلے شوې دے ـ

اے زمـــا د غېرتـــې خـــاوېې مرونـــو
د پښـــتون د ائینـــده نســـل یلرونـــو
د نـــاموس د ډګـــر واړه فاتحـــانو
پـــاکووینـــو د تېرســـتو د افغانـــانو
زمـــا ســـندرې د وطـــن د ازادئ پـــه جنـــګ راغلـــو
د انســـان ســـره پـــه پـــت او تنـــګ راغلـــو ـ ـ ـ ،،

د همیش خلیل یو خوندور زنداني غزل د ,, زما سندرې،، نه انتخاب ـ

طلب د یوګناه کښې ترتوبې ورسېدم
خواهش د بت کده کښې تر کعبې ورسېدم

د مینې په صحرا کښې دا زغو په تېرو څوکو
منزل ته ځیرې ځیرې پښې ابلې ورسیدم

په طمع د سحر د رڼاګانو سترې سترې
په ژوند د بې ارزۍ شپې ورسېدم

ائین ستا د جمال کښې مې خپل ځان په نظر راغلو
تر تا چې اے محبوبه سترګې سرې ورسېدم

۲ـ چار ګل:ـ چارګل د محترم همېش خلیل صېب د افسانو مجموعه ده چې په فروري ۱۹۷۳ء کښې په اول ځل د دارالتصنیف پېښور له خوا چاپ شوې ده ـ په دې کښې ټولې نهه افسانې شاملې دي چې یوه پکښې ترجمه شوې او نورې طبع ذار دي ـ همېش صېب دا افسانې هم د خپل قیدوبند په دوران کښې په مختلفو جیلونوکښې لیکلې دي په دې وجه دا دافسانوي زنداني ادب یوه قیمتي اثاثه ده ـ

ددې افسانو د لیک باره کښې پخپله لیکي چې :

,, چارګل زما د افسانو وړومبۍ مجموعه ده ـ ټولې افسانې د کال ۱۹۶۱ء د ګرفتارۍنه پس ما دخپل درې کلني قېدپه دوران کښې په مختلفو جیلونولکه سنټرل جېل مچ ، سنټرل جیل ډېره اسماعیل خان او سنټرل جېل هرې پور کښې لیکلې دي ـ ددغه قېد په دوران کښې ماسره خپل ادبي ملګري ښاغلي اجمل خټک، سید میرمهدي شاه مهدي، حسین بخش کوثر او ارباب سکندر خان خلیل هم وو ـ او پښته بیا چې زمونږ د ټولو تبادله د مچ د زندان ته د جهلم ضلعي بند یجانې او بیا ډېرو سترے بندي خانې ته اوشوه ـ نو دغه وخت ښاغلي خاضمیر هلالي، فضل الرحیم ساقي او سعادت خان جلیل دي هم زمونږ سره چې تردغه

وخته د سکرملتان او ساهیوال په مختلفو جیلونوکښې وو۔ سره یوځائې کړې شو۔ او دغه شان ددغه قېد اخري شپې ورځې چې ما په سنټرل جېل هرې پور کښې تېرولې نو هم دغه ملګري اکثر سره یو ځائې وو۔

شاید هم ددغه ادبي محفل د اثر نیتجه وه چې د یو څو تظمونو نه علاوه دغه ادبي محفل د اثر نتیجه وه چې د یو څو تظمونو نه علاوه دغه یو څوافساني هم ما ولیکلې شوې ،،[11]

همیش صېب ددغه افسانو د تخلیق یو وجه د ادبي ملګرو په جیل کښې مجلس اثر هم شودلې خو دغه ملګري د جیل نه بهر هم اکثر دغه ملګري ددوي سره ډېر یو ځائې پاتې شوې دي خو دوي بیا دغه شان خوندورې افسانې اونۀ لیکلې شوې ۔ بلکې د افسانو د لیکو د پاره ئې د جېلود تلو د پاره د دعا وینا هم کړې ده ۔ [12] او دا ئې هم وئیلي دي چې د هغې افسانې پلاټونه د مخکښې نه زما په ,,مور،، ذهن کښې موجود کۀ جیل نه نۀ ووتلې نو دغه پلاټونه صرف پلاټونه پاتې شوي وو او ,,چارګل،، په ترې نه نۀ وو جوړ شوې۔[12]

ددې کتاب د یوې افسانې مور په جیل کښې رنۀ لېکلو پاره کښې ډاکټرزبیر حسرت لیکلي ۔

,, کۀ نورې افسانې د جیل پیداوار وي، وي به خو د افسانه جېله بهر او وړاندې لیکلې شوې ده ۔ هغه هم د ,,تکل،، په صنف کښې او یقیناً چې هغۀ وخت دا افسانه همیش صېب د یوۀ تکلي تاثر لاندې لیکلې وه او هم په دغه خیال او صنف ئې تنقیدته هم پیش کړې وه ۔ دغه ,,تکل،، وروستو د ورځپاڼې الفلاح پېښور په میاشتنۍ پښتو ایډیشن جلدنمبر ۷ اووم کښې هم چاپ شوې دے۔،،[13]

ددې کتاب نه علاوه ئې یوه افسانه د ۱۹۵٤ء د خپل اولنې قید په دوران کښې د ,,پانسي،، په نوم لیکلې ده ۔ چې د هغۀ وخت د کوټې په پښتو رساله کښې چاپ شوې هم وه ،،[14]

فضل حق شېدا صېب د ,,چارګل،، په سریزه کښې لیکلي دي چې :

,, همیش یو داسې مسافر دے چې د حق او انصاف په تلاش کښې لولندړګرځي ۔ دا تلاس هغه بندي خانې (ته) اورشوي ۔ خدائې خبر په کوم جرم کښې باهر هم ویړه دنیا ورته زندان ښکاریده ۔ د لوئې زندان نه چې وړوکې زندان ته اورسېدنو وزرونه ئې قینچې شو، جسماني پرواز ئې نۀ شوکولې خو د تصوراتوت څوک بندوے شي ۔ هم دغه تنګه

پنجره کښې د هغهٔ جذبات را اويا رېدل تخبل ئې غزونـې وکـړواو دا شـهپارې چـې اوس ستاسو د وړاندي دي ، د هغهٔ د مات قلم، د تودووښکو په شکل و څڅېدے،،۔[15]

په دې کتاب کښې چې د ,,تنهاميا،، په نوم کومه افسانه ده دا په اصل کښې د يو جېلي خاکه ده چې د هغهٔ د زنـداني ژوند عکاسه ده، دې سره سره پکښې د زندان د ژوند ډېرې خبرې مخ ته راغلي دي چې په دې وجه د افسانه کمـه او د تنهاميا خاکه زياته ده۔

,, د بند بخانې په تنګ او ترش ماحول کښې هر سياسي بندي ددغه وخت د سياسي تـاريخ بيل بيل باب وو۔ ولې زما په نظر کښې ننا ميا دخپل معصوميت، بې وسی د اوبې کسی له کبله د يو ليکونکي د پاره ډېر مواد لرلو۔ د هغهٔ د حرکاتو کـړو وړه او رسـمي انـداز ن د هغـهٔ د علاقائي ښت مذهب او قام، قبيلې اندازه په اسانه نهٔ شوه لګېدے ۔ ولې خپل ليوتوب هغه د دغو ټولو قيودو ازاد کړے ووؤ۔ ,,هميش خليل ,,چارګل،،

۳۔ کاکاجي صنوبر حسين مومند :۔

دا ورکوټے کتاب ګوټے په جون ۱۹۹۱ء کښې د پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنوله خوا چاپ شـوې دے ۔ په دې عزلې او ۲٤ رباعيانې دي چې د عمرخيام د رباعيانو ترجمه ده ۔ ددې په اخـر کښـې چـې کـوم مضـمون پـه کاکاجي ,,کاکاجي په تصوير کښې،، ليکلے شوي دے دا زنداني مضمون دے چې د کاکاجي په بـاره کښـې همـيش صېب د هرې پور په زندان ليکلے دے۔

,, کاکاجي په تصور کښې ،، دا تاثر ما د کاکاجي په مرګ هغهٔ وخت لـيکلے ووـ چـې د کال ۱۹٦۱ء د مئ په يوديرشمه ورځ د سول نافرمانی په نتيجه کښې د ,,مچ،، ,,جهلـم،، او ,,ډېرو،، د زندانونو کتلو نه پس د ,,هري پور،، جېلخانې په وروستي پړاؤ پروت ووم غالباً دا د کال ۱۹٦۳ء د مارچ ورځي شپې ورځي وے۔
دا تاثروروستو بيا داووه ورځنی مجلې ,,غنچه،، د دوبم دور کال ۱۹۷۱ء په يوه ګڼه کښې هم شائع شوي دے،،[16]

د کال ۱۹٦۳ء د جنوری دريمه ورځ وه او ماوے خدايا خبرکړے او چې د زندان د پنجرې نه مې د پېښور سيمې ته اوګټل نوتورې تورې لړې خورې شوے دے۔ لکه د اوس دارمانونو په جونګړه اورلګېدے وي لکه د اولسي ادب مړه

شوې وي ـ زما په زړه يو هيبت غوندي خورشو ـ زۀ د ماضي د تصور په تيرو كښې ورك شوم ـ لكه ما خوب ليدے وي ـ د خيال فنكار دوهم په پرده د كاكاجي تصوير جوړكړو ـ يو يو ګوټكي لاس رااوړېدشو ـ او د كاكاجي تصوير ئې وران كړو ـ او ما چغې كړے ملګرو دا څۀ اوشوې دا څۀ اوشو؟ زما د اوښكو قافله رابيداره شوه ـ ما بيا چغې كړے ـ او د اوښكو كاروان زما د ګريوان لار ونيوه ـ او ما كاكاجي سره د عقيدت د اثرلاندې د يوقبېدې په حثيث د هغۀ په دائمي بيلتون اخر ددې نه نور زيات څۀ كولے شول ـ،،[17]

# حوالې

1 حنيف خليل ,,هيش خليل ژونداوفن،، باكرام پښتو ادبي جركه پيښور ١٩٩٧ء مخ ٢٧

2 سهيل انشاء ډاكټر دهيمش خليل صېب د توسيع ذات سفر،، دكاروان ستورے،، مرتب جوهرخليل، پښتوادبي ټولنه رېګے پيښور ،، اګست ١٩٩٩ء مخ ٦٤

3 حنيف خليل ,,هميش خليل ژوند او فن ،، مخ ٢٩

4 رفيع ، حبيب الله ,,هميش هميش شوے دے ماهر بلبل به دې ثناء كا كۀ ګل شي مرتب، شېراحمد خليل ، هميش ملګري پښتونخوا پيښور مخ ٩٣

5 د ميا فاروق فراق سره هميش خليل مركه د كاروان ستورے مرتب جوهر خليل مخ ٩٨

6 سهيل انشاء ډاكټر,, د هميش خليل صېب د توسيع ذات سفر،، د كاروان ستورے، مرتب، جوهر خليل، مخ ٨١

7 كامل موmand ,,مقدمه،، د هميش خليل زما سندرې دارالتقيف پيښور جنوري ١٩٧٣ء مخ ٥

8 قلندر مومند ,,سريزه،، همدغه مخ ـن

9 هميش خليل ,,زما سندرې،، دارالتصيف پيشور ، جنوري ١٩٧٣ء مخ ١

10 داود، داور خان، پروفېسر ,,هميش خليل شاعري،، ( د انځرګل) مرتب، ګوهررحمن رازللازهر پبلك سكول درګۍ ملاكند، ١٩٩٧ء مخ ٤٠

11 هميش خليل ,, خپلې خبرې،، چار ګل دارالقنين پيښور، فروري ١٩٧٣ء مخ ٦

12 هميش خليل ,,چارګل،، مخ ٧

13 زبيرحسرت، پروفېسر ډاكټر ,,چارګل،، پرې پرې،، هر بلبل به دې ثناء كا كۀ ته ګل شي،، مرتب شيراحمد خليل، مخ ١٧٣، ١٧٤

14

15 شيد افضل حق ,,سريزه ،، چارګل، مخ ١٢، ١٣

16 هميش خليل ,, كاكاجي صنوبر حسين مومند،، پشتو ادبي مركز سرائے نورنګ بنو، جون ١٩٩١ء

17 هم دغه ، مخ ٥٥، ٥٦